د الله جل جلاله د نبي صلى الله عليه وسلم اخلاق قرآن و

سعد بن هشام بن عامر - چې کله د عايشې رضي الله عنها کور ته ورغی نو ويې ويېل: اې د مؤمنانو مورې، ماته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په اړه خبر راکړه، هغې وفرمايل: آيا ته قرآن نه لولې؟ ما وويل: ولې نه، ويې فرمايل: د الله جل جلاله د نبي صلى الله عليه وسلم اخلاق قرآن و.

[صحيح دی] [مسلم په يو اورد حديث کې روايت کړی دی]

د مؤمنانو له مور عايشې رضي الله عنها څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په اړه پوښتنه وشوه، نو هغې جامع ځواب ورکړ، او پوښتونکي ته يې په قرآن کريم حواله ورکړه؛ هغه کتاب چې د کمال ټول صفتونه پکې دي، نو ويې فرمايل چې: د هغه اخلاق قرآن و، په هغه څه چې قرآن امر کړی هغه يې عملي کړي، او له هغه څه چې قرآن منع فرمايلې، ډډه يې ترې کړې ده، نو په قرآن عمل کول، د هغه له حدودو سره ودريدل، په ادابو يې ځان سنګارول، له کيسو او مثالونو څخه يې عبرت اخيستل د هغه اخلاق و.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8265